
د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د غزني ولایت پوهنې ریاست

د کیفیت د تضمین آمریت

# د غزني ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور




د راپور ورکولو دوره: حمل ـ حوت کال ۱۴۰۴

## مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۴ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........ 1

د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 2

سریزه ........ 3

د کړنو لنډیز ........ 4

د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ ........ 8

برنامه 1: اسلامي زده کړې ........ 8

1.1طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........ 8

1.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........ 9

1.3 نصاب ........ 10

1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 10

1.5 ښوونیز چاپیریال ........ 11

1.6 د ټولنې ګډون ........ 12

1.7 مدیریت ........ 12

برنامه 2:ښوونه او روزنه ........ 12

2.1 زده کووونکی ........ 12

2.2 ښوونکی ........ 16

2.3 نصاب ........ 18

2.4 ښوونیزه ارزونه ........ 20

2.5 ښوونیز چاپیریال ........ 20

2.6 د ټولنې ګډون ........ 26

2.7 مدیریت ........ 27

برنامه 3: د کیفیت تضمین ........ 30

3.7 مدیریت ........ 30

برنامه 4: سرچیني او اداره ........ 33

4.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........ 33

4.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........ 33

4.3 نصاب ........ 33

4.4 ښونیزه ارزونه ........ 33

4.5 ښوونیز چاپیریال ........ 33

4.6 د ټولنې ګډون ........ 35
4.7 مدیریت ........ 35
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و ...) ........ 37
5.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........ 37
5.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........ 37
5.3 نصاب ........ 37
5.4 ښوونیزه ارزونه ........ 37
5.5 ښوونیز چاپیریال ........ 37
5.6 د ټولنې ګډون ........ 37
5.7 مدیریت ........ 37
غیرپلاني فعالیتونه او لاسته راوړنې ........ 38
د پایلو او شننې لنډ جدول ........ 39
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 43
مالي رپوټ تحلیل ........ 44
ملپاڼې ........ 45

## د ۱۴۰۴ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم اوتخلص | دنــــــده | ایمیل ادرس | دټلیفون/واټساپ نمبر | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| عزیزالله «مشعل» | دتضمین کیفیت آمر | Azizullahmashal2@gmail.com | 0795510226 | |
| مولوي محمدابراهیم «حنیفي» | دعمومي زده کړوآمر | Mohammadebrahimhanafi2025@gmail.com | 0793727628 | |
| مولوي زین الدین «ناصر» | دمنابع او اداري آمر | zainudinnasir@gmail.com | 0794090461 | |
| مولوي نجیب الله «سعید» | داسلامي زده کړوآمر | Najibullahsaeed79@gmail.com | 0790772884 | |

د پوهنې د رئیس تائیدي:

| نوم اوتخلص | دنــــــده | ایمیل ادرس | دټلیفون/واټساپ نمبر | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوي میرنصیراحمد «حسیني» | دپوهنې رئیس | نلــــــري | 0792671844 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات




غزني ولایت د هیواد له پلازمېنې کابل څخه په ۱۳۵ کیلومترۍ کې جنوب ختیځ ته پروت ولایت دی چې د شمال ختیځ له لوري دلوگر ولایت، د شمال له لوري د وردگ ولایت، د شمال لوېدیځ له لوري دبامیانو ولایت، د لوېدیځ له لوري د ارزگان ولایت، د سویل لوېدیځ له لوري د زابل ولایت، د سویل ختیځ له لوري دپکتیکا ولایت او د ختیځ له لوري د پکتیا ولایت سره پوله لري.

د افغانستان هره لویشت خاوره د لرغونو مدنیتونو استازیتوب کوي، کله یې د نورو ملکونو څخه راغلي تمدنونه په افغاني ځیره اړولي او بیا یې په نوي رنگ او ډول پراختیا ورکړې او د نړۍ د تاریخ ځلانده سرلیک یې گرځولی دی او کله یې د خپلو میشتو وگړو په زیار او میړانې د نوي مدنیت بنسټ ایښی او د هغه د پراختیا لپاره یې د ویاړه ډک گامونه پورته کړي دي چې د غزني لرغوني سیمه یې د ثبوت ښه بیلگه ده. د ۲۰۱۳ ز کال احصایې له مخې د دغه ولایت نفوس ۱۳۶۸۸۰۰ کسان اټکل شوي دي، چې ۶۰۲۹۶۵ تنه یا ٪۶۰ سلنه یې پښتانه، ۳۰۴۰۰۰ تنه یا ٪۳۲ سلنه یې هزاره او ۵۲۰۰۰ تنه یا ٪۴.۷ سلنه یې تاجیکان او پاتې برخه یې هند، سک او نور خلک دي.

د اسلامي ثقافت پلازمینه غزني ولایت په ۱۳۹۲ کال کې د دویمې درجې ولایت په توگه د وخت د دولت له لوري منظور شوی دی او په خپله اډانه کې د مرکز په شمول ۱۹ اداري واحدونه لري چې عبارت دي له: اندړ، قره باغ، مقر، گیلان، آب بند، گیرو، واغظ، زنخان، رشیدان، ناوه، خوگیاني، دهیک، جغتو، اجرستان، جاغوري، مالستان، ناهور، خواجه عمري او مرکز.

انگور ، بادام، منې، زردالو، غنم، اوربشې، لوبیا، کچالو، پیاز، جواری، او داسې نور یې مهم زراعتي پیدا وار دي.

د غزني ولایت اوسیدونکي له ښوونې او روزنې سره ډېره مینه لري د پوهنیز نظام د پراخوالي په موخه د ډېرو لاس ته راوړنو شاهد دی، ترڅو زده کوونکي په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي او تولیدونکي وگړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي چې په لاندي برخو کې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.

د غزني ولایت په کچه ټولټال ۱۵۰۴ بابه ښوونیز مرکزونه شتون لري چې د هغې له جملې څخه ۶۸۳ بابه د عمومي زده کړو دولتي مرکزونه دي، چې په یادو مرکزونو کې ټولټال۸۲۳۶ تنه مامورین، ښوونکي او خدماتي کارکـــــوونکي چې ۱۸۱۰ تنه یې ښځینه دي په دندو بوخت دي. په دې مرکزونو کې ټولټال ۴۱۳۱۷۰ تنه زده کووونکي چې ۲۴۶۶۷۹ تنه یې نارینه ۱۶۶۴۹۱ تنه یې ښځینه دي تر زده کړې لاندې نیول شوي دي. همدارنگه ۱۱۸ بابه دخصـــــــــوصي زده کړو مرکزونه دي چې په یادو مرکزونو کې ټولټال ۱۴۶۴تنه مامورین، ښوونکي او خدماتي کارکوونکي فعالیت لري چې ټولټال ۴۰۴۸۵ تنه زده کووونکي چې ۲۹۶۹۷ تنه یې نارینه او ۱۰۷۶۱ تنه یې ښځینه زده کوونکي دي په زده کړو په کې بوخت دي.

همدارنگه دې ولایت کې ۷۰۳ بابه د اســـــــلامي زده کړو مرکزونه شتون لري، چې په یادو مرکزونو کې ټولټال ۳۴۰۰ تنه مامورین، ښوونکي او خدماتي کارکوونکي فعالیت کوي. د اسلامي زده کړو په مرکزونوکې ۲۲۸۰۶۷ تنه طالب العلمان چې ۱۳۸۹۲ تنه یې نارینه او ۲۱۴۱۷۵ تنه یې ښځینه دي په زده کړو بوخت دي.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**الحمدلله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:**

**د غزني ولايت کلنی عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار د پوهنې په ۷ عنصرونو کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په کچه د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه يې د راپور ورکولو مهال ويش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.**

**د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د ادارې بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته ښه والې ور وبخښي.**

**د غزني ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام د ۱۴۰۴ کال د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی راپور چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکی دی.**

**۱ ـ د کړنو لنډیز**

**۲ـ د فعالیتونو د تشریح برخه**

**۳ـ د غیر پلاني کړنو برخه**

**۴ـ د پایلو اوتحلیل برخه**

**۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه**

**٦ـ مالي راپور برخه**

**۷ـ ملپاړو برخه**

## د کړنو لنډيز

### 1. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړيال

- د دې ولايت د مرکز او۱۸ ولسواليو په مدرسو او دارالحفاظونو کې ٦۰۲,۱۱ تنه نارينه او ۸٦٥,۱۳ تنه ښځينه طالب العلمان نوي جذب شوي دي.
- د دې ولايت د دارالعلوم د لومړي خخه تر خوارلسم پورې ټولگيو کې ۱۴۰,۱ تنه طالب العلمان نوي شامل شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې ۵۰۰ تنه طالب العلمان په ليليو کې جذب او د ليليو له آسانتياوو خخه برخمن شوي دي.
- په دې ولايت کې طالب العلمانو ٦۹٦ د عاليه دورې شهادتنامې ويشل شوي دي.
- د دې ولايت د مرکز او ۱۸ ولسواليو په کچه د ۲۸۳ بابه ښوونځيو له شوراگانو خخه خارنه تر سره شوې ده.
- د دې ولايت د عمومي زده کړو په ښوونځيو کې ټولټال ۴۱۸,۴۷ تنه زده کوونکي چې له جملې يې ۷٥٦,۲٥ تنه نارينه او ٦٦۲,۲۱ تنه ښځينه دي نوي جذب شوي دي.
- د دې ولايت د عمومي زده کړو د ښوونځيو په لومړنۍ دوره کې ٥٦۲,۱ تنه، په منځنۍ دوره کې ۹۱٦,۴ تنه او په لېسې دوره کې ۴۱۰,۴ تنه مجاهدين، راستنيدونکي او سوابقو راوړونکي د ټولگي د تثبيت او سويې ازموينې له لارې شامل شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ولسواليو کې ۱۱٦ تنه د کوچيانو په ښوونځيوکې جذب شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ولسواليو کې د ۷۲۰ تنه زده کوونکو روغتيايي وضعيت معاينه او د روغتيايي سموالي خخه يې ډاډ تر لاسه شوی دی.
- دې ولايت په کچه د روغتيا په برخه کې د عامه پوهاوي برنامې دايرې شوې دي چې ۱۲۰,۳ تنه زده کوونکي او ۴۱۲ تنه ښوونکي ورخخه برخمن شوي دي.

### 2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د دې ولايت د پوهنې رياست، د مرکز او ۱۸ ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د مدرسو د ښوونيزو مرکزونو په کچه د رشتې خلاف مدرسينو د ستونزو د حل د لارښود د تطبيق په هکله لارښوونې تر سره شوي دي.
- د دې ولايت مرکز اړوند د ۱ باب(جمع اولياء) دارالعلوم د پايلو د اوسط ارزونه تر سره شوې ده.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې د مدرسينو د مسلکي پراختيا غرو له لوري داسلامي زده کړو د مرکزونو د۱۷۰ تنه استاذانو ارزونه ترسره شوې ده.
- د دې ولايت په مرکز کې لابرانټ ښوونکو ته دظرفيت لوړونې په موخه ورکشاپ داير شوی دی چې ۱۲ تنه لابرانټ ښوونکي ورخخه برخمن شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې د رشتې خلاف ښوونکو معلومات راټول او اړونده مرجع سره شريک شوي دي.
- د دې ولايت په کچه ۳۰ تنه ښوونکو ته د روغتيا په برخه کې د ظرفيت لوړولو ورکشاپ داير شوی دی.
- د دې ولايت دمرکز او ۱۸ ولسواليو په کچه ۷۱۷,۱ د ښوونکو خالي بستونه په گوته شوي دي.

## 3. نصاب

- داسلامي زده کړو دآمریت له لوري د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې ۰۰۰,۲۱ ټوکه ددیني مدرسو درسي کتابونه  ویشل شوي دي.
- د  دې ولایت  پوهنې ریاست د ساینس مرکز علمي غړو ته د اړونده مضمونونو د ښوونې لپاره د چاپیریال د عیني موادو او تجربو د استفادې دودولو لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.
- د دې ولایت  د مرکز او ۱۸ولسوالیو ۲۴۰ تنه  ښوونکو ته دبدني روزنې دلارښود کتابونه  ویشل شوي دي.

## 4. روزنیزه ارزونه

- د اسلامي زده کړو دآمریت له لوري د۴۷۰  تنو د دولسم ټولګي  او د ۳۲۰ تنو  د  څوارلسم ټولګي فارغانو د سندونو  ارزونه تر سره شوې ده.

## 5. روزنیز چاپېریال

- د  دې ولایت  په قره باغ او ناوه ولسوالیو کې دحضرت عمر فاروق اومحمدیه په نومونو ۲ بابه دیني مدرسې نوې تاسیس شوې چې له امله یې دیني زده کړو ته د ۱۵۰تنه طالب العلمانو د لاسرسي زمینه برابره شوې ده.
- د  دې ولایت  د مرکز او ۱۸ ولسوالیو په کچه ۳۰ بابه بې ښوونکي ټولګي پیژندل شوي دي.
- د دې ولایت  د مرکز او ۱۸ ولسوالیو په کچه ۳۰  ټولګي پیژندل شوي چې پر ښوونکي د  زده کوونکي نسبت یې له ټاکل شوي نورم څخه ټیټ دی.
- د دې ولایت  د مرکز او ۱۸ ولسوالیو په ښوونځیو کې د ښوونیزو فعالیتونو له  پیل څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- د دې ولایت  د مرکز او ولسوالیو په ښوونیزو مرکزونو کې د حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لارښود پلی شوی دی.
- د دې ولایت  د مرکز او ۱۸ولسوالیو په ښوونځیو کې ۰۷۵,۲ نیالګي دښوونځیو دنظافت او ښکلا په موخه کینول شوي دي.
- د دې ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو په ٦۷۵  بابه ښوونځیو کې دښوونځیو دنظافت او ښکلا په موخه دحشر پروګرامونه په لاره اچول شوي دي.
- د  دې ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې  ۳۰۳ بابه د سواد زدکړې ټولګي د رسمي ښوونکو له لارې رامنځته شوي دي.
- د  دې ولایت  په کچه د ۱۲ بابه خصوصي ښوونځیو جوازونه تمدید شوي دي.
- د  دې ولایت  په کچه په واحد فارمټ کې د ودانیزو موادو قیمتونه راټول او د اړونده مرجع سره شریک شوي دي.
- په  دې ولایت  کې د ۲۳ پیل شوو پروژو د تطبیق له بهیر څخه مقطعي څارنه تر سره شوې ده.
- په  دې ولایت کې  ۲۰ جریبه ځمکه د پوهنې د محترم وزارت د ښوونیزو او اداري مرکزونو د ودانیو جوړولو لپاره  چمتو شوې ده.

## 6. د ټولنې ګډون

- د سواد زده کړې برنامو د ښه تطبيق لپاره د کليو په کچه د سواد ۱۰۵ کمېټې رامنځته شوي دي.
- د دې ولايت په کچه د سواد د کمېټو ۳ غونډې، د ولسواليو په کچه د سواد دکمېټو ۲۸ غونډې او د کليو په کچه د سواد د کمېټو ۱۵۳ غونډې دايرې شوي دي.
- د ځايي خلکو له لوري ۲۰,۰۰۰ افغانۍ نغدې پيسې راټولې شوي چې د هغې څخه ۲۰۰ تنه سواد زده کوونکي، ۲۷ تنه د حياتي سواد ښوونکي او۱۴ تنه کارکوونکي برخمن شوي دي.

## 7. مديريت

- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې دڅارندوی ټيمونو دنظم او دسپلين دڅارنې په موخه د ۱۳٦ بابه ښوونځيو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د بدني روزنې مضمون دښه تدريس په موخه د ۸۴ بابه ښوونځيو او د بدني روزنې د ۱ مديريت څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ولسواليو کې دڅارندوی گروپونو دجوړيدلو لارښود تطبيق او ۳۴۵ په شمير دڅارندوی او څارنجوی گروپونه جوړ شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ولسواليو کی دترافيک څارندوی گروپونو دجوړيدو لارښود تطبيق او ۱۰۲ دترافيک څارندوی ټيمونه جوړ شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې داطفائيې څارندوی گروپونو دجوړيدولارښود تطبيق او۱۰۰ داطفايې څارندوی ټيمونه جوړ شوي دي.
- د دې ولايت د مرکز او ۱۸ولسواليو اړوند ښوونځيو کې دمخدره موادو دزيانونو په برخه کې د عامه پوهاوي ۱٦۰ پيغامونه نشر او خپاره شوي دي.
- داسلامي زده کړو اړوند ۲ بابه ښوونيزو مرکزونو او د عمومي زده کړو اړوند ۲۱۰ بابه ښوونيزو مرکزونو د لابراتواري موادو او کمپيوټر لبونو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولايت د مرکز او ۱۸ ولسواليو د ۷۰۴ بابه ښوونځيو، ۳ بابه د حياتي سواد ښوونځيو او ۹۰ بابه د سواد زدکړې د ټولگيو څخه څارنه تر سره شوې ده. چې د نومورې څارنې په پايله کې د يادو مرکزونو نيمگړتياوې په گوته او د حل په موخه ورته لازمې سپارښتنې تر سره شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې د ۸۱۴,۲ تنه ښوونکو د تدريس څخه لېدنه تر سره شوې ده.
- د دې ولايت د مرکز او ۱۸ ولسواليو د ۵۷۰ تنه سرښوونکو او ۵۷۰ تنه آمرينو/ مديرانو د مسلکي کړنو څخه ليدنه تر سره شوې ده.
- د دې ولايت د مرکز او ۱۸ ولسواليو څخه د عملياتي پلانونو د تطبيق ۲۰۹ مياشتني راپورونه راټول شوي دي.
- د دې ولايت د مرکز او ۱۸ ولسواليو څخه د عملياتي پلان د پرمختگ ۵۷ ربعوار راپورونه راټول شوي دي. همدارنگه د ولايت په کچه ۴ ربعوار راپورونه ترتيب او له تحليل وروسته د څارنې او ارزونې رياست اړوند راپور ورکولو آمريت سره شريک شوي دي.
- ۱۵ قطعې د ښوونکو د روزنې اړوند متفرقه شهادتنامې او ۹۳ قطعې د دولتي ښوونځيو متفرقه شهادتنامې ترتيب شوي دي.

- د خصوصي ښوونځيو ۱۷۳٫۱ انفرادي شهادتنامې، د اسلامي زده کړو ۳۴ انفرادي شهادتنامې او د ښوونکو د روزنې برنامې ۱۳۰ انفرادي شهادتنامې ترتيب او مرکز ته استول شوي دي.
- د خصوصي زده کړو او له پولي بهر ښوونځيو ۰۵۰٫۱۱ گروپي شهادتنامې ترتيب او مرکز ته استول شوي دي.
- د پوهنې وزارت له لوري غزني ولايت پوهنې رياست ته ۸۸۰٫۱۰ سپينې شهاتنامې راستول شوي دي.
- د دولتي ښوونځيو د فارغانو د پايلو ۲۲۸ جدولونه، د خصوصي ښوونځيو د فارغانو د پايلو ۲۸جدولونه،د اسلامي زده کړو د فارغانو د پايلو ۱۰ جدولونه،د ښوونکو د روزنې برنامې د فارغانو د پايلو ۱۱ جدولونه او د سامع فاغانو د پايلو ۲۲۳ جدولونه ترتيب او له اړونده مرجع سره شريک شوي دي.
- د دې ولايت په کچه ۹ دعوايي او له غصب سره مخ جايدادونه پيژندل شوي او په عدلي او قضايي ارگانونو کې تعقيب شوي دي.
- د مرکز او ۱۸ ولسواليو په کچه د اداري کارکوونکو ۱۲۹ خالي بستونه په گوته شوي دي.
- د دې ولايت پوهنې رياست په کچه ٦۳ تنه کارکوونکو لپاره د ظرفيت لوړولو برنامې داير ې شوي دي.
- د مرکز څخه غزني ولايت پوهنې رياست ته ۱۷ د پوهنې اونيزې راستول شوي دي. چې اړونده آمريتونو او مديريتونو ته ويشل شوي دي.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

### ۱- ستونزې

- دښوونځيو په لېسو او منځنيو دورو کې د درسي کتابونو کمښت
- دزده کوونکو لپاره دمعياري ټولگيونشتون
- دځارنې او ارزونې مسلکي غړو لپاره دترانسپورټ نشتون
- په مرکز او ولسواليو کې ښوونکو ته دعلمي او عملي سيمينارونو نشتون

### ۲ – حل لارې

- د وزارت مقام له لوري د درسي کتابونو ليږل
- دمعياري ټولگيو جوړول
- دځارنې او ارزونې غړو ته دترانسپورټ اسانتيا برابرول
- د ښوونکو لپاره د علمي سيمينارونو دايرول

## د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

**دا برخه د پرمختګونو، احصاییوي معلوماتو او شمېرو تحلیل او تفسیر په بر کې نیسي، چې د عملیاتي پلان د ټاکل شوو عناصرو او لومړیتوبونو لرونکې ده. پرمختګونه د هر پروګرام په کچه د ټاکل شوو شاخصونو او موخو له مخې په مفصل ډول تشریح کېږي.**

## برنامه 1: اسلامي زده کړې

### 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی

#### 1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو ته په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**1.1 فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونوکې د طالب العلمانو جذبول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او۱۸ ولسوالیو په مدرسو او دارالحفاظونو کې ٦٠٢,١١ تنه نارینه او ٨٦٥,١٣ تنه ښځینه طالب العلمان نوي جذب شوي دي.**

**1.2 فعالیت: په دارالعلومونوکې د شمولیت زیاتوالی**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د دارالعلومونو په لومړي ټولګي کې ۱۹۰ تنه طالب العلمان، د۱-۳ ټولګیو کې ۱۰۰ تنه طالب العلمان،د ۴-٦ ټولګیو کې ۱۵۰ تنه طالب العلمان، د ۷-۹ ټولګیو کې ۱۷۰ تنه طالب العلمان، له ۱۰-۱۱ ټولګیو کې ۲۳۰ تنه طالب العلمان او د ۱۲-۱۴ ټولګیو کې ۳۰۰ تنه طالب العلمان نوي شامل شوي دي.**

**1.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د مرکزونو په مُِبیت (لیلیه) کې جذب شوي طُلاب**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دغزني ولایت د مرکز او ولسوالیو په کچه ۵۰۰ تنه طالب العلمان په لیلیو کې جذب شوي دي.**

#### 1.1.2 لومړیتوب: د شهادتنامو وېش

**2.1 فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له۷۵۵ تنه طالب العلمانو څخه ازموینه اخیستل شوې ده.**

**2.2 فعالیت: د خامسه او حفظ فارغانو لپاره د فراغت اسنادو وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه دخامسه او حفظ فارغانو لپاره ۴۳٦,۱ سندونه ویشل شوي دي.**

#### 1.1.3 لومړیتوب: د شهادتنامو چاپ او وېش

**3.1 فعالیت: د عالیه دورې د شهادتنامو چاپ او وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت دپوهنې ریاست په کچه ٦۹٦ د عالیه دورې شهادتنامې ویشل شوي دي.**

### 1.2 مدرسی / استاد/ښوونکی

#### 1.2.1 لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

**1.1 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د پوهنې ریاست، د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو په کچه د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل د لارښود د تطبیق په هکله لارښوونې تر سره شوي دي.**

#### 1.2.2 لومړیتوب: د صنفي اصولو/ دوهمي دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو په موخه د اړینو تدبیرونو نیول

**2.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د پوهنې ریاست، د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو په کچه د صنفي اصولو / دوهمې دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف د لارښود د تطبیق په هکله لارښوونې تر سره شوي دي.**

#### 1.2.3 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د خالي بستونو لپاره د رشتې مطابق د مسلکي مدرسینو پر وخت ګمارنه

**3.1 فعالیت: د کړنلارې مطابق د مرکز او ولایتونو په کچه د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم له مسلکي مدرسینو څخه ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه درشتې مطابق له ۴۳۵ تنه مدرسینوڅخه ازموینه اخیستل شوې ده.**

#### 1.2.4 لومړیتوب: د علمي کادر اجراء کول

**4.1 فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو د علمي کادر او علمي رتبې اجراء کول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې د دارالعلومونو استادانو ته کادري معاش نه دی حواله شوی. اما د۴۰ تنو استادانو نوملړ وزارت مقام ته دکادري معاش د اجراء دمنظوری په موخه استول شوی دی.**

#### 1.2.5 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

**5.1 فعالیت: د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دمرکزي ټیم له لوري د دې ولایت د مدرسینو د مسلکي پراختیا غړو لپاره کوم ورکشاپ نه دی دایر شوی.**

#### 1.2.6 لومړیتوب: د طالب العلمانو د درسي پروګرامونو د تطبیق او د زده‌کړې د ارزونې د پایلو اوسط د بررسي کولو په منظور د هیئت لېږل

**6.1 فعالیت: د طالب العلم د درسي پروګرامونو د تطبیق او زده‌کړې ارزونې د پایلو د اوسط څېړنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت مرکز اړوند د ۱ باب(جمع اولیاء) دارالعلوم د پایلو د اوسط څیړنه دوه ځله تر سره شوې ده.**

#### 1.2.7 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د مدرسینو او استادانو د ارزونې برسي کول

**7.1 فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو له لوري د مدرسینو او استادانو د ارزونې څېړنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې د مدرسینو د مسلکي پراختیا غړو له لوري داسلامي زده کړو د مرکزونو د۲۰۰ تنه استادانو ارزونه ترسره شوې ده.**

#### 1.2.8 لومړیتوب: له ولایتونو څخه د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه

**8.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا غړو د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مدرسینو د مسلکي پراختیا غړو له لوري ۱ راپور تحلیل اوتجزیه شوی دی.**

### 1.3 نصاب

#### 1.3.1 لومړیتوب: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو په کچه په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو ویش

**1.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه د مرکز څخه کوم ټیم غزني ولایت ته سفر نه دی تر سره کړی.**

#### 1.3.2 لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب سره سم د اسلامي زده‌کړو معینیت ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

**2.1 فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب مطابق د درسي کتابونو وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ولسوالیو کې داسلامي زده کړو دآمریت له لوري ۲۱,۰۰۰ ټوکه ددیني مدرسو درسي کتابونه ویشل شوي دي.**

### 1.4 ښوونیزه ارزونه

#### 1.4.1 لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول

**1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم ټولګي او څوارلسم ټولګي د علماء کرامو د سویې تثبیتول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو دآمریت له لوري د۴۷۰ تنو د دولسم ټولګي او د ۳۲۰ تنو د څوارلسم ټولګي فارغانو سندونو ارزونه تر سره شوې ده.**

#### 1.4.2 لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازموینې اخیستل

**2.1 فعالیت: د ثانویه مرحلې، (د ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو دآمریت له لوري دکلنۍ مشترکې ثانویه درجې ازموینې لپاره د ۸۰۰ تنو نوم لیکنه تر سره شوې ده.**

**2.2 فعالیت: د فوق ثانویه مرحلې، (د سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو دآمریت له لوري دکلنی مشترکی ثانویه درجی ازموینی ته ۳۰۸ تنو نوم لیکنه کړی.**

### 1.5 ښوونیز چاپیریال

#### 1.5.1 لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د مدرسو رامنځته کول

**1.1 فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په قره باغ او ناوه ولسوالیو کې حضرت عمرفاروق او محمدیه په نومونو ۲ بابه مدرسې نوې تاسیس شوي دي چې له امله یې دیني زده کړو ته د ۱۵۰ تنه طالب العلمانو د لاسرسي زمینه برابره شوې ده.

#### 1.5.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول

**2.1 فعالیت: په ۳۴ ولایتونوکې د لیلیې رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه دکافی بودجې دنشتون له امله کومه لیلیه نه ده رامنځته شوې.

**2.2 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه د خالي بستونو دنشتون له امله کوم ښوونیز مرکز نه دی تاسیس شوی.

**2.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلون**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز کې د اسلامي زده کړو د ۳ مرکزونو نوعیت بدل شوی چې عبارت دي له(موي مبارک دارالحفاظ – مدرسې ته، اقراءتربیت اولادعلي بن طالب دارالحفاظ – عثمانیه مدرسې ته اومدرسه انوار القران – انس بن مالک دارالحفاظ ته).

**2.4 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلون**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکزکې د اسلامي زده کړو د ۱۳ بابه مرکزونو نومونه بدل شوي چې عبارت دي له(دارالحفاظ بحرالعلوم - مصباح الهدا ته،مدرسه خلفا راشدین – مفسرعبدالله ابن عباس ته، امام مهدي مدرسه – رسول اکرم«ص»مدرسي ته، سیدالمرسلین مدرسه – حضرت مصطفي ته، ترتیل القران مدرسه – فیض القران ته، سراج الهدا مدرسه – دارالسلام ته، جویریه مدرسه – جان محمد خان اندړته، خالد بن ولید دارالحفاظ – حضرت بلال ته، ختم المرسلین دارالحفاظ – امام صادق ته، دارالحفاظ حضرت علی – دارالقران حضرت حنظله ته، دارالحفاظ حکیم سنائي – امام ابوحنیفه ته، مدرسه بی بی عایشه صدیقه – بي بي خدیجه الکبراته او نجم الهدا مدرسه – سرورکائنات ته)

**2.5 فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسې لوړېدل**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه دقانوني معیارونو دنه پوره کیدو له امله کومه مدرسه دارالعلوم ته نه ده لوړه شوې.

**2.6 فعالیت: دارالعلوم ته د ارتقاء لپاره د مدرسو څېړنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه دقانوني معیارونو دنه پوره کیدو له امله درالعلوم ته د لوړولو په موخه د کومې مدرسې څیړنه نه ده تر سره شوې.

### 1.6 د ټولنې ګډون

د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل.

### 1.7 مدیریت

#### 1.7.1 لومړیتوب: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

**1.1 فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ولسوالیو کې داسلامي زده کړو آمریت اړوندهیڅ کوم استاد، مامور او اجیر ندی مقرر شوی ځکه د وزارت مقام له لوري مقرري ځنډیدلې ده.

#### 1.7.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتي اړتیاوو د رفع کولو په موخه د بستونو وېش

**2.1 فعالیت: هغو مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد چې بست ته اړتیا لري**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  نوموړی فعالیت نه دی تر سره شوی. ځکه د وزارت مقام له لوري یاده کړنه ځنډیدلې ده.

#### 1.7.3 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تآسیسولو په موخه د بستونو وېش

**3.1 فعالیت: جدیدالتأسیس مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په ناوه ولسوالی کې دمحمدیه په نوم یوې مدرسې ته دوزارت مقام له لوري دیو بست کوډ ورکړل شوی دی.

## برنامه 2:ښوونه او روزنه

### 2.1 زده کوونکی

#### 2.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو د پراخه شمولیت او زده‌کړې لپاره عامه پوهاوی

**1.1 فعالیت: د ۱۴۰۵ ښوونیزکال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په منظور د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز له لوري  نوموړی فعالیت نه دی تر سره شوی.

**1.2 فعالیت:  د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه ۸ غونډې او د ښوونیزو مرکزونو په کچه ٦۲۷ د عامه پوهاوي غونډې دایرې شوې دي.

**1.3 فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه د ۲۸۳ بابه ښوونځیو له شوراګانو څخه څارنه تر سره شوې ده.

**1.4 فعالیت: د بېلابېلو کچو په سړو او تودو سیموکې لارښوونه او د عامه پوهاوي برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د عامه پوهاوي برنامې دایرې شوې دي.

**1.5 فعالیت: د غړیزو او انخوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او د تبلیغاتي بروشرونو او پاڼو چاپول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز کې د عامه پوهاوي ۱۳ قطعې بروشرونه چاپ اوخپاره شوي دي.


**2.1.2 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول**

**2.1 فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونوکې د زده‌کوونکو غیرحاضري او د زده‌کړې پرېښودل ۲ سلنه ټیټوالی**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د دې ولایت په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې د زده کړې د پریښودولو او د زده کوونکو د غیر حاضرۍ د کمولو په موخه پوهاوی تر سره شوی دی.

**2.2 فعالیت: د لومړنۍ دورې د جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ټولټال ۴۱۸,۴۷ تنه زده کوونکي چې له جملې یې ۷۵٦,۲۵ تنه نارینه او ٦٦۲,۲۱ تنه ښځینه دي نوي جذب شوي دي.




**2.3 فعالیت: په لومړنۍ، منځنۍ او لېسه دوروکې د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو، تر لندمهاله ښوونې لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د عمومي زده کړو د ښوونځیو په لومړنۍ دوره کې  ۵٦۲,۱ تنه، په منځنۍ دوره کې۹۱٦,۴ تنه او په لیسې دوره کې ۴۱۰,۴ تنه مجاهدین، راستنیدونکي او سوابقو راوړونکي د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې شامل شوي دي.

**2.4 فعالیت:  د کوچیانو د جدیدالشمولانو زده‌کوونکو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ۱۱٦ تنه د کوچیانو په ښوونځیوکې جذب شوي دي.

**2.5 فعالیت:  له پولې بهر راستنېدونکو او مجاهدینو د ښوونیزو اسنادو نه لرونکو متقاضیانو د ټولګي تثبیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د دې ولایت په مرکز او ۱۸ولسوالیو کې ۴۸۴ تنه راستنیدونکو د ټولګیو تثبیت تر سره شوی دی.

**2.1.3 لومړیتوب: د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول**

**3.1 فعالیت: له اړوندو مرکزونو سره په همکارۍ د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې محل کې په شرایطو برابرو ټولو لویانو د نوملړ چمتوکول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې له اړونده مرکزونو سره په همکارۍ په شرایطو برابرو سواد زده کوونکو نوملړ چمتو شوی دی چې له مخې یې د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده کوونکو شمیر ۷۲۰,۱۰ دی او د حیاتي سواد په ښوونځیو کې د سواد زده کوونکو شمیر ۵۰۳ تنه دی.**

**3.2 فعالیت: دکوچیانو په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه د کوچیانو د سواد زده کړو په ټولګیو کې ۲۵ تنه سواد زده کوونکي شامل شوي دي.**

**3.3 فعالیت: د جوماتونو د ملا امامانو له لارې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بودجې د کمښت له امله د جوماتونو د ملا امامانو له لارې سواد زده کوونکي نه دي جذب شوي.**

**3.4 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو، حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیوکې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده کړو په ټولګیو کې ۱۳۳,۵ تنه او د حیاتي سواد په ښوونځیو کې ۵۲۸ تنه سواد زده کوونکي شامل شوي دي.**

**3.5 فعالیت: د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شوو شمولیت**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ۵۰۳ تنه د راستنیدونکي او داخلي بې ځایه شوي شامل شوي دي.**

**2.1.4 لومړیتوب: د روغتیایی مرکزو په مرسته د روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدلو، لیدلو، ژامو،خولې، غاښونو او ساري ناروغیو د معایناتو څخه ډاډ ترلاسه کول**

**4.1 فعالیت: د جدیدالشموله زده‌کوونکو له روغتیایي سموالي څخه اطمینان**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ولسوالیو کې د ۷۲۰ تنه زده کوونکو روغتیایي وضعیت معاینه او د روغتیایي سموالي څخه یې ډاډ تر لاسه شوی دی.**

**2.1.5 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې، نظافت( WASH) د برنامو تطبیق او د لومړنیو مرستو د کېټونو او تبلیغاتي روغتیایي موادو وېش**

**5.1 فعالیت: د زده‌کوونکو او ښوونکو لپاره د پوهاوي ورکولو روغتیایي برنامو دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه د روغتیا په برخه کې د عامه پوهاوي برنامې دایرې شوي دي چې ۱۲۰,۳ تنه زده کوونکي او ۴۱۲ تنه ښوونکي ورڅخه برخمن شوي دي.**

**5.2 فعالیت: د روغتیایي تبلیغاتي موادو، د حفظ الصحې او نظافت کیټونو او لومړنیو مرستو وېش**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز کې د روغتیا تبلیغاتي موادو ۴ کیټه او د حفظ الصحې او نظافت ۴ کیټونه ویشل شوي دي.**

**2.1.6 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو د محوه‌کولو سراسري کمپاین**

**6.1 فعالیت: د ښوونځیو د کچې ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو ضد تابلېټو وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په مرکز او ۱۸ولسواليو کې په۵۵۲،۹۸۵ شمير د کولمو د چنجيو ضد ټابليټونه ويشل شوي دي.

### 2.1.7 لومړيتوب: د ښوونځيو په کچه د سياليو په لاره اچول او د ورزشي څېرو پېژندنه

**7.1 فعاليت: په مرکز او ولايتونوکې د پوهنې د منتخبو ټيمونو د غوراوي لپاره په ښوونځيوکې د پسرلنيو او خزاني، مناسبتي او دوستانه سياليو په لاره اچول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په مرکزکي د کرکټ لوبو ۲ سيالۍ په لار اچول شوي دي.

**7.2 فعاليت: په ملي او نړۍوالو سياليوکې د پوهنې د منتخبو ټيمونو د ورزشکارانو ګډون**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت مرکزڅخه ۴ تنه زده کوونکي نړيوالوسياليو ته معرفي شوي چي له هغو څخه ۲تنه ليږل شوي هم دي.

### 2.1.8 لومړيتوب: په خصوصي مرکزونوکې د ښوونې او روزنې د زمينې برابرول

**8.1 فعاليت: د هغو زده‌کوونکو د درې‌کلنو نمرو ترتيبول او ژباړل چې د زده‌کړې د ادامې په موخه له هېواده بهر سفرکوي**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مراجعينو د نه غوښتنې له امله نوموړی فعاليت نه دی تر سره شوی.

**8.2 فعاليت: د اړوندو قوانينو او لارښودونو مطابق د خصوصي ښوونيزو مرکزونو د زده‌کوونکو د تصديق‌ليکونو اجراکول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مراجعينو د نه غوښتنې له امله نوموړی فعاليت نه دی تر سره شوی.

**8.3 فعاليت: په خصوصي ښوونځيو او ښوونيزوکورسونوکې د يتيمو، بې وزله ماشومانو، د شهيدانو ورثې او معلولينو د فيس د تخفيف اجرا کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مراجعينو د نه غوښتنې له امله نوموړی فعاليت نه دی تر سره شوی.

### 2.1.9 لومړيتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د المپياد(علمي سياليو) او د ساينس او رياضياتو د عملي پروژو دايرول

**9.1 فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د پوهنې رياست، د مرکز او ۱۸ ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د ښوونځيو د ښوونيزو مرکزونو په کچه دياد لارښود په هکله لارښووني ترسره شوي دي.

**9.2 فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولسواليو د پوهنې د آمريتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د پوهنې رياست، د مرکز او ۱۸ ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د ښوونځيو د ښوونيزو مرکزونو په کچه دياد لارښود په هکله لارښووني ترسره شوي دي.

**9.3 فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره د ښوونيزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د پوهنې رياست، د مرکز او ۱۸ ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د ښوونځيو د ښوونيزو مرکزونو په کچه دياد لارښود په هکله لارښووني ترسره شوي دي.

**9.4 فعاليت: د ښوونيزو مرکزونو په کچه د علمي سياليو او عملي پروژو دايرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د پوهنې رياست، د مرکز او ۱۸ ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د ښوونځيو د ښوونيزو مرکزونو په کچه دياد لاربښود په هکله لاربښووني ترسره شوي دي.

**9.5 فعاليت: د ولسواليو د پوهنې آمريت په کچه د علمي سياليو او عملي پروژو دايرول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د پوهنې رياست، د مرکز او ۱۸ ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د ښوونځيو د ښوونيزو مرکزونو په کچه دياد لاربښود په هکله لاربښووني ترسره شوي دي.

**9.6 فعاليت: د ولايتونو د پوهنې د رياستونو په کچه د علمي سياليو او عملي پروژو دايرول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د پوهنې رياست، د مرکز او ۱۸ ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د ښوونځيو د ښوونيزو مرکزونو په کچه دياد لاربښود په هکله لاربښووني ترسره شوي دي.

## 2.2 ښوونکي

### 2.2.1 لومړيتوب: د ورسپارل شوو دوند د پرمخ وړلو په منظور د ساينس مرکز د مرکزي او ولايتي علمي غړو روزنه

**1.1 فعاليت: د مرکز او ولايتونو د ساينس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونيزې برنامې دايرول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مرکزي ټيم له لوري د غزني ولايت د ساينس مرکز علمي غړو لپاره ښوونيزې برنامې نه دي دايرې شوي.

### 2.2.2 لومړيتوب: د رشتې خلاف او غير مسلکي ښوونکو او مديرانو د وړتيا لوړل او مسلکي پراختيا

**2.1 فعاليت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکيتوب يوه کلنه برنامه دايرول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په مرکز کې د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکيتوب يو کلنه برنامه دايره شوې چې ۵ تنه ښوونکي ورځخه برخمن شوي دي.

**2.2 فعاليت: د ساينس، رياضياتو او کمپيوټر د غيرمسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونو ظرفيت لوړول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د بودجې د نه شتون له امله نوموړی فعاليت نه دی تر سره شوی.

### 2.2.3 لومړيتوب: د ساينس، رياضياتو اوکمپيوټر د ښوونکو او ښوونيزو مرکزونو د لابرانتانو وړتيا لوړول او مسلکي پراختيا

**3.1 فعاليت: د ښوونيزو مرکزونو د ساينس، رياضياتو او کمپيوټر ښوونکو او لابرانتونو لپاره د ورکشاپونو دايرول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ياد ولايت په مرکز کې ۱۲ تنه لابرانټ ښوونکو ته دظرفيت لوړونې په موخه ورکشاپ داير شوی دی.

### 2.2.4 لومړيتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو حلولو لپاره د تدبيرونو نيول

**4.1 فعاليت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې د ولايتونو د پوهنې رياست او ولسواليو د پوهنې آمريتونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د پوهنې رياست او ۱۸ ولسواليو پوهنې آمريتونو په کچه د رشتې خلاف ښوونکو د پيژندنې په برخه کې لارښوونه تر سره شوې ده.

**4.2 فعاليت: د رشتې خلاف ښوونکو پېژندنه او معلومات راټولول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې د رشتې خلاف ښوونکو معلومات راټول او اړونده مرجع سره شريک شوي دي.

2.2.5 لومړيتوب: د موجودو مدرسينو، استادانو او ښوونكو د رشتې سره سم توظيف لپاره اړين تدبيرونه نيول

5.1 فعاليت: د رشتې سره سم د ښوونكو د توظيفولو د لارښود د تطبيق په برخه كې د ولايتونو د پوهنې رياست، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مركزونو د كاركوونكو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي كال په جريان كې د دې ولايت د پوهنې رياست، د ۱۸ ولسواليو پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مركزونو په كچه د رشتې سره سم د ښوونكو د توظيفولو د لارښود د تطبيق په هكله لارښوونه  تر سره شوې ده.

5.2 فعاليت: د رشتې سره سم ښوونكو د توظيفولو د لارښود له تطبيق څخه د ډاډ ترلاسه كولو په منظور ملاتړيزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي كال په جريان كې د دې ولايت په كچه د رشتې سره سم ښوونكو د توظيفولو د لارښود د تطبيق څخه د ډاډ تر لاسه كولو په موخه حمايوي څارنه تر سره شوې ده.

2.2.6 لومړيتوب: د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترين ښوونكي د توظيف لپاره لازم تدبيرونه نيول

6.1 فعاليت: د چمتو شوي لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مركزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي كال په جريان كې  د غزني ولايت د پوهنې رياست، ولسواليو پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مركزونو په كچه د صنفي اصولو دورې لپاره د مناسب ترين ښوونكي د توظيفولو د لارښود په هكله لازمې لارښوونې تر سره شوي دي.

6.2 فعاليت: د لارښود له تطبيق څخه د ډاډ ترلاسه كولو په منظور ملاتړيزه څارنه او د صنفي اصولو د دورې لپاره د مناسب ترين ښوونكي توظيفول

د ۱۴۰۴ مالي كال په جريان كې  د دې ولايت د مركز او ۱۸ ولسواليو په كچه د صنفي اصولو دورې لپاره د مناسب ترين ښوونكي د توظيفولو د لارښود د تطبيق څخه د ډاډ تر لاسه كولو په موخه حمايوي څارنه تر سره شوې ده.

2.2.7 لومړيتوب: په ټولو ولايتونو او ولسواليو كې د مسلكي پراختيا د غړو د ګمارنې بشپړول او هغوی ته د د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو لارښوونه كول

7.1 فعاليت: د ولايتونو په كچه د مسلكي پراختيا د غړو ګمارنه بشپړول

د ۱۴۰۴ مالي كال په جريان كې  د غزني ولايت په كچه د مسلكي پراختيا علمي غړي نه دي ګمارل شوي ځكه د وزارت مقام له لوري مقرري ځنډيدلې ده.

7.2 فعاليت: د مسلكي پراختيا د غړو لپاره د دندو د چوكاټ، دندو د لايحو، څارنيزو وسايلو، د افكارو د روښانولو او مسؤوليت منني په اړه د معرفتي او رهنمودي ښوونيزې برنامې دايرول

د ۱۴۰۴ مالي كال په جريان كې  د مركز له لوري نوموړی فعاليت نه دی تر سره شوی.

7.3 فعاليت: د ولايتونو د مركزي هستې د علمي غړو لپاره ښوونيز ټرينينګ دايرول

د ۱۴۰۴ مالي كال په جريان كې  د مركز له لوري نوموړی فعاليت نه دی تر سره شوی.

2.2.8 لومړيتوب: د ښوونځيو د شورا د غړو لپاره د وړتيا لوړونې برنامو دايرول

8.1 فعاليت: د شوراګانو د غړو ظرفيت لوړول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د بودجې د نه شتون له امله د ښوونځيو د شورګانو غړو لپاره د ظرفيت لوړولو برنامې نه دي دايرې شوي.

2.2.9 لومړيتوب:  د نويو مقرر شوو ښوونکو او مديرانو د وړتيا لوړول او مسلکي پراختيا

9.1 فعاليت: د جديدالتقرر ښوونکو لپاره د ظرفيت لوړولو ښوونيزې برنامې دايرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې   په کچه ۵۲ تنو ښوونکو ته دظرفيت لوړولو ښونيزی برنامي دايري شوي دي.

9.2 فعاليت: د جديدالتقرر سرښوونکو او مديرانو لپاره د ظرفيت لوړولو ښوونيزې برنامې دايرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د دې ولايت په کچه ۱۰ تنو سرښوونکو او مديرانو ته دظرفيت لوړولو برنامې دايرې شوي دي.

2.2.10 لومړيتوب:  د ښوونکو، زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره د وړتيا لوړونې زمينې برابرول

10.1 فعاليت: د ښوونکو لپاره د روغتيايي ورکشاپونو دايرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت پوهنې رياست په کچه ۳۰ تنه ښوونکو ته د روغتيا په برخه کې د ظرفيت لوړولو ورکشاپ داير شوی دی.

10.2 فعاليت: د روغتيا مديرانو لپاره د ورکشاپونو دايرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د غزني ولايت پوهنې رياست د روغتيا مدير ته د روغتيا په برخه کې د ظرفيت لوړولو ورکشاپ داير شوی دی.

10.3 فعاليت: د مرکز او ولايتونو  د پوهنې د بدني روزنې د مسلکي او غير مسلکي ښوونکو د ظرفيت لوړولو لپاره د بدني روزنې  (حرکي لوبو) ښوونيز سمينارونه په لاره اچول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مرکزي ټيم  له لوري د غزني ولايت مرکز کې د بدني روزنې ۱۵ تنو مسلکي او غير مسلکي ښوونکو ته د ظرفيت لوړولو  سمينار داير شوی دی.

2.2.11 لومړيتوب:  د سوادزده‌کړې برنامې ته د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د سيمې د خلکو همکاري

11.1 فعاليت: په ښوونيزو مرکزونوکې د ښوونکې د کمښت د رفع کولو لپاره د ځايي خلکو له لوري افتخاري تدريس او د غير رسمي ښوونکو توظيفول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د ياد  ولايت په مرکز او ولسواليو کې دځايي خلکو په همکارۍ د سواد زده کړې برنامې ته ۱۱ افتخاري ښوونکي  توظيف شوي دي.

2.3 نصاب

2.3.1 لومړيتوب:  د اړونده مضمونونو په زده‌کړه کې د سيمه‌ايزو عيني تجربو او موادو څخه د ګټې اخيستل ترويجول

1.1 فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياست د ساينس مرکزونو د علمي غړو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې  د  دې ولايت پوهنې رياست د ساينس مرکز علمي غړو ته د اړونده مضمونونو د ښوونې لپاره د چاپيريال د عيني موادو او تجربو د استفادې دودولو لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

1.2 فعاليت: د لارښود د تطبيق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې آمريتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د دې ولایت د مرکز  او ۱۸ ولسوالیو اړوند پوهنې آمریتونو ته د اړونده مضمونونو د ښوونې لپاره د چاپیریال د عیني موادو او تجربو د استفادې دودولو لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

1.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د دې ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو اړوند  ښوونیزو مرکزونو ته د اړونده مضمونونو د ښوونې لپاره د چاپیریال د عیني موادو او تجربو د استفادې دودولو لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

### 2.3.2 لومړیتوب:  د ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو بیا کتل او وېش يې

2.1 فعالیت: د دارالعلومونو د مدرسینو او ښوونکو لپاره له ۴ تر ۱۲ټولګیو پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د مدرسینو او ښوونکو لپاره لارښود کتابونه نه دي راستول شوي.

### 2.3.3 لومړیتوب:  درسي مرستندویه موادو ( د ریاضي، بیولوژي کیټونو، ښوونیزو چارټونو او ویدیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي زمینه برابرول

3.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې امریتونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږد
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه کومه کړنلاه نه ده راستول شوې.

3.2 فعالیت: د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې له آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږل
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه کومه کړنلاه نه ده راستول شوې.

3.3 فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د درسي مرستندویه موادو وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه کومه کړنلاه نه ده راستول شوې.

### 2.3.4 لومړیتوب:  د صنفي اصولو دورې لپاره د کمبود درسي کتابونو  په ځانګړې توګه اساسي مضمونونو چاپ او د هغو متوازن وېش

4.1 فعالیت: له ذیدخلو اړخونو او مرکزي او ولایتونو له ریاستونو سره د درسي کتابونو په کمښت کې همغږي او ړتیا سنجونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز له لوري د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه کومه همغږي او لارښوونه نه ده تر سره شوې.

### 2.3.5 لومړیتوب:  په ښوونځیو کې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په منظور د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېشل

5.1 فعالیت: د پوهنې د مرکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۸ولسوالیو ۲۴۰ تنه ښوونکو ته دبدني روزنې دلارښود کتابونه ویشل شوي دي.

### 2.3.6 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

**6.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د ضرورت وړ کتابونو اړتیاسنجونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۸ولسوالیو کې د سواد زده کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونو اړتیا سنجونه تر سره شوي ده چې د نوموړې اړتیا سنجونې له مخې غزني ولایت کې ۳۹۹,۱۵ ټوکه دسواد زده کړې کتابونو ته اړتیا لیدل کیږي.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.

## 2.5 ښوونیز چاپیریال

### 2.5.1 لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونوکې د لابراتوار او کمپیوټرلبونو رامنځته کول او تجهیزول

**1.1 فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ښوونیزو مرکزونو اړتیا سنجونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په دې ولایت کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ۱۰ بابه ښوونیزو مرکزونو څخه اړتیا سنجونه تر سره شوې ده.

**1.2 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو لابراتوارونه رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د لابراتواري موادو د نه شتون له امله په غزني ولایت کې د ساینس او ریاضیاتو کوم لابراتوار نه دی رامنځته شوی.

**1.3 فعالیت: په سامان آلاتو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د لابراتواري موادو د نه شتون له امله په غزني ولایت کې کوم لابراتوار او کمپیوټر لیب په سامان آلاتو او لابراتواري موادو نه دی تجهیز شوی.

### 2.5.2 لومړیتوب: د ادارو په دیپوگانو کې د ګټې اخیستنې وړ منابعو ( درسي کتابونه، مېز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خېمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري موادو) پېژندل او د هغې متوازن وېش

**2.1 فعالیت: په اړوندوګدامونو او اداروکې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندنه او د استفادې لپاره په ښوونیزو مرکزونوکې د هغو متوازن وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې نوموړی فعالیت د مرکز له لوري په غزني ولایت کې نه دی تر سره شوی.

### 2.5.3 لومړیتوب: د بې ښوونکو ټولګیو لپاره لازم تدبیرونه نیول

**3.1 فعالیت: د بې ښوونکي درسي ټولګیو پېژندنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو په کچه ۳۰ بې ښوونکي ټولګي پیژندل شوي دي.

**3.2 فعالیت: د هغو ښوونیزو مرکزونو پېژندنه چې پر ښوونکي د زده‌کوونکي نسبت یې له ټاکل شوي نورم څخه ټیټ دی**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو په کچه ۳۰ ټولګي پیژندل شوي چې پر ښوونکي د زده کوونکي نسبت یې له ټاکل شوي نورم څخه ټیټ دی.**

**3.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بې ښوونکو ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیولو لارښود په هکله د غزني ولایت پوهنې ریاست ته لارښوونه تر سره شوې ده.**

**3.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بې ښوونکو ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نېولو لارښود په هکله د غزني ولایت ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.**

**3.5 فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بې ښوونکو ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نېولو لارښود په هکله د غزني ولایت ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.**

**3.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو په ښوونیزو مرکزونو کې نوموړی لارښود ۷۵ سلنه تطبیق شوی او لا هم جریان لري.**

**3.7 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره همغږي**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د کارکوونکو چارو لوی ریاست سره په دې هکله همغږي تر سره شوې ده.**

**2.5.4 لومړیتوب: د آزادې فضا ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیول**

**4.1 فعالیت: د هغو ښوونځیو چې په آزاده فضاکې د ټولګیو لرونکي دي او دهغو ټولګیو چې په آزاده فضاکې قرار لري پېژندنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه ۱۵ ښوونځي او ۳۰ ټولګي پیژندل شوي چې په ازاده فضا کې قرار لري.**

**4.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز له لوري د نوموړي لارښود په هکله غزني ولایت پوهنې ریاست ته لارښوونه نه ده تر سره شوې.**

**4.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي لارښود په هکله د مرکز څخه لارښوونه نه ده تر سره شوې.**

**4.4 فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نوموړي لارښود په هکله د مرکز څخه لارښوونه نه ده تر سره شوې.**

4.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نومورې لارښود په هکله د مرکز څخه لارښوونه نه ده تر سره شوې.

4.6 فعالیت: د مسلکي پراختیا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ښوونیز چاپېریال لکه (د خېمې او کرایي ودانۍ) د پیداکولو او برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د نومورې لارښود په هکله د مرکز څخه لارښوونه نه ده تر سره شوې.

2.5.5 لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې په ځانګړې توګه لومړي ټولګي ته د بهترین ټولګي ځانګړي کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

5.1 فعالیت: د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو لارښود د تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

5.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو لارښود په هکله د دې ولایت پوهنې ریاست ته لارښوونه تر سره شوې ده.

5.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو لارښود په هکله د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند ۱۸ پوهنې آمریتونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.

5.4 فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو لارښود په هکله د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.

5.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو لارښود د ښوونیزو مرکزونو په کچه ۵۰ سلنه تطبیق شوی او لا هم جریان لري.

2.5.6 لومړیتوب: د ښوونیز کال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د ښوونیزو فعالیتونو ( بې له وقفې ) پیلولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

6.1 فعالیت: د ښوونیزکال په پیل کې په ښوونځیوکې د ښوونیزو فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو په ښوونځیو کې د ښوونیزو فعالیتونو له پیل څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

6.2 فعالیت: د ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د  دې ولایت د مرکز او ولسوالیو په ښوونځیو کې د  درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د ویش له بهیر څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

**6.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز له لوري د  دې ولایت پوهنې ریاست ته د نوموړي لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**6.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د  دې ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د دمې پرته د ښوونیز کال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د تعلیمي فعالیتونو د پیل دلارښود  دتطبیق په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**6.5 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لاښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د  دې ولایت د مرکز او  ولسوالیو ښوونیزو مرکزونو ته د پوهنې آمریتونو له لوري د دمې پرته د ښوونیز کال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د تعلیمي فعالیتونو د شروع دلارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**6.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  په ښوونیزو مرکزونو کې نوموړی لارښود  ۵۰ سلنه پلې شوی دی او لا هم جریان لري.

### 2.5.7 لومړیتوب:  حد اکثر په دوو ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره د لازمو تدبیرونو نیول

**7.1 فعالیت: دهغو ښوونځیو پېژندنه چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د  دې ولایت د مرکز او ولسیوالیو په کچه ۱۰۵ بابه داسې ښوونځي پیژندل شوي دي چې حد اکثر دوه درسي ټایمونه لري.

**7.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې  د مرکز له لوري د  دې ولایت پوهنې ریاست ته د حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم د لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**7.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالی د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت پوهنې ریاست له لوري د مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم د لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**7.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري  ښوونیزو مرکزونو ته د حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم د لارښود په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

**7.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د  دې ولایت د مرکز او ولسوالیو په ښوونیزو مرکزونو کې د حد اکثر دوه ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لارښود ۵۰ سلنه  پلې شوی دی.

**2.5.8 لومړیتوب:   د هېواد په کچه د ښوونې او روزنې زمینه برابرول او ښوونځیو متوازن کول**

**8.1 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونوکې د جدیدالتأسیس ښوونځیو رامنځته کول**

